Antidiskriminierungsstelle
des Bundes



# په المان كې د تبعيض
# په وړاندې ساتنه

## د مهاجرو او نويو کډوالو دپاره يو لارښود

Diese Broschüre ist auch in deutscher Sprache erhältlich:

Bu broşür Türk dilinde olarak mevcuttur:

Cette brochure est également disponible en français:

Ova brošura je dostupna i na srpskom jeziku:

Данная брошюра также доступна на русском языке:

هذا الكتيب متوفر أيضا باللغة العربية :

این بروشور را به زبان دری بدست آورده می توانید:

ئەم نامیلکە ڕێنیشاندەرە بە زمانی کوردییش دەست دەکەوێت:

**www.antidiskriminierungsstelle.de/refugees**

# محتویات


I. تبعیض یعنی څه؟ ______ 3

II. له حقوقی پلوه تبعیض څه معنا لري؟ ______ 4

III. تبعیض چیرته پیښیږي؟ ______ 7

**1. کار او دنده ______ 7**

1.1 د کار غوښتنه او استخدام ______ 8

2.1 جنسی اذیت د کار په ځای کې ______ 10

**2. دفترونه او اداري ______ 12**

**3. ډاکټران او روغتونونه ______ 15**

**4. د بانکي حساب پرانیستل ______ 18**

**5. تفریحی مهال او ورځنۍ ژوند ______ 20**

**6. د استوګنځي لټول ______ 23**

**7. زده کړه او ښووونځۍ ______ 26**

IV. مرسته او سلا مشوره ______ 30

# I. تبعيض يعنى څه؟

تبعيض يعنى دا چې د يوه سړي سره د بل سړي په نسبت، د مثال په توګه د هغه د معيوبيت له کبله يا د هغه د اصلي استوګنې له امله، ډير بد چلند وشي. په المان کې تبعيض منع دی.

له همدې امله په دې هيواد کې د مساوي چلند عمومي قانون (das Allgemeine Gleichbehandlungsgesetz – AGG) شتون لري چې د هغې پر بنسټ تبعيض، په تيره بيايه کار کې، د استوګنځي د لټولو په ترڅ کې، رستورانت ته د ننوتلو يا د پيريدلو په مهال منع دی.

دغه بروشور تاسو ته د تاسو د حقونو په باب معلومات درکوي او لاندې پوښتنو ته ځواب وايي:

- تبعيض له حقوقي پلوه څه معنا لري؟
- تاسو څنګه د تبعيض په وړاندې له ځان نه دفاع کولای شی؟
- چيرته تاسو مرسته ترلاسه کولای شی؟

# II. له حقوقی پلوه تبعیض څه معنا لري؟

تبعیض په المان کې د شپږو دلیلونو له امله منع دی:

نژاد پالنه او نژادي منشأ
د هیچا سره باید د بدن د رنګ، ژبې یا اصلي استوګنې له امله تبعیضی چلند ونشي.

جنسیت
د ښځو او نارینه وو سره باید مساوی چلند وشي. د نرښځو او ګډجنسه کسانو سره هم باید تبعیضي چلند ونشي. نرښځي هغه اشخاص دي چې په هغه جنسیت کې ژوند نه کوي کوم چې د زیږیدو په مهال ور په برخه شویدی. ګډجنسه اشخاص هغه کسان دي چې په ښکاره توګه نارینه یا ښځینه نه دي.

مذهب او عقیده
د هیچا سره باید د هغه د عقیدې له امله تبعیضي چلند ونشي. دد ې ترڅنګ، د هیچا سره په دې دلیل چې کومه عقیده نلري هم باید تبعیضي چلند ونشي.

معیوبتیا او مزمنه ناروغتیا
د هیچا سره باید له دې امله چې د مثال په توګه شل او ګوډ دی، په غوږو کوڼ دی یا د سرطان په رنځ اخته دی، تبعیضي چلند ونشي.

عمر
هیچا ته باید له دې امله چې "ډیر زوړ" یا "ډیر ځوان" دی تاوان پیښ نشي.

جنسي هویت
د هیچا سره باید له دې امله چې نارینه همجنس، ښځینه همجنس، د دوارو جنسونو یا مخالف جنس غوښتونکي دی تبعیضي چلند ونشي. د مثال په توګه، د هغو ښځو سره چې د ښځو سره مینه لري باید د هغو ښځو په شان چې د نارینه وو سره مینه لري مساوي چلند وشي.

**په آلمان کې ټول خلک د قانون پر بنسټ**، پرته له دې چې د هغوی د استوګنې موقف په پام کې ونیول شي، **د تبعیض په وړاندې خوندي دي.** ځکه مهاجرو او نوي کډوالو ته هم د تبعیض له امله زیان رسیدلای شي.

# هیڅوک باید تبعیض پر ځان ونه مني. هره ښځه یا هر نارینه کولای شي د تبعیض په وړاندې د ځان نه دفاع وکړي!

## د تبعیض په وړاندې دا ساتنه چیرته د تطبیق وړ ده؟

د مساوي چلند عمومي قانون د تبعیض په وړاندې د خلکو څخه په لاندې دوو برخو کې ساتنه کوي: د کار د ژوند په ډګر کې او په ټاکلو موارد کې په ورځني ژوند کې، په تیره بیا په ورځني راکړه ورکړې کې.

**د کار ژوند** دا معنا لري چې د هیچا سره په لاندې موارد کې تبعیضي سلوک ونشي:

- د کارغوښتنې په مهال
- د تادیې په مهال
- د کار د شرایطو په مهال
- د ترفیع په مهال
- د عزل او برطرفی په مهال

دا د مثال په توګه په دې معنا ده چې په یوه شرکت کې کارکوونکي له دې کبله چې د یوه بل هیواد نه راغلي وي باید د خپل کار په وړاندې لږ معاش ترلاسه نکړي.

**ورځنی راکړه وکړه** دا معنا لري چې د هیچا سره باید په لاندې موارد کې تبعیضي چلند ونشي:

- د کور په کرایه کولو کې
- یوې دیسکوتیک ته په تللو کې
- د بس یا اورګاډي نه په ګټه اخیستلو کې
- په یوه بانک کې د بانکي حساب په پرانیستلو کې

# چیرته استثنا لیدل کیږي؟

که چیرې **عیني دلایل** موجودوي، کیدای شي چې د اشخاصو سره بل ډول چلند وشي.

د مثال په توګه د یوې کار لټوونکې یا یوه کارلټوونکي غوښتنه په هغه صورت کې ردیدلای شي چې دا یا دئ د کار اجازه ونلري.
همداراز، که چیرې په ژبه پوهیدل مثلاً د مشتریانو سره د اړیکې په موخه ارزښتناکه وي، په الماني ژبه نه پوهیدل کیدای شي د غوښتنې د ردولو یو عیني دلیل وګڼل شي.

دا تبعیضي چلند نه دئ!

# III. تبعیض چیرته پیښیږي؟

تبعیض هرچیرته پیښیدلای شي: د کوڅې پر مخ،په رستورانت کې، د کار په ځای کې یا په انټرنټ کې. په ډېرو مواردو کې ددې امکان شته چې د تبعیض په وړاندې د ځان څخه دفاع وکړې او یا مرسته په لاس راوړې.

لاندې مثالونه څرګندوي چې په کومو حالتونو کې تبعیضي چلند پیښیدلای شي او په داسې حالت کې تاسې چیرته مرسته په لاس راوړلای شی.

## 1. کار او دنده

په المان کې هرشخص کار ته د لاسرسی په مهال، د کار د شرایطو او د عزل او برطرفۍ په مهال د تبعیض په وړاندې خوندي دی. دغه ساتنه **د مسلکې روزنې په مهال، د مثال په توګه په عملي دوره کې**، هم صدق کوي.



هغه اشخاص چې د اروپايي اتحادیې اتباع ندي د کار د جواز د لاسته راوړلو وروسته کولای شي په المان کې کاروکړي چې د هغوی د استوګنې په وضعیت پورې اړه لري. اساساً د استوګنې په سندونو کې چې د رسمي ادارو له خوا صادریږي، تاکل کیږي چې هغوی د کار اجازه لري او که نه:

"Erwerbstätigkeit gestattet" = تاسو د کار اجازه لری.

"Beschäftigung nur mit Erlaubnis der Ausländerbehörde gestattet" = تاسو د کار اجازه نلری یا تراوسه یې نلری.

"Erwerbstätigkeit nicht gestattet" = تاسو د کار اجازه نلری.

## 1.1 د کار غوښتنه او استخدام

د ټولو د مخه، د هغو اشخاصو دپاره چې المان ته نوي راغلي دي مهمه ده چې یو کار په لاس راوړي. په خواشینۍ باید ووایو چې دلته په وار وار تبعیضي چلند پېښیږي. د مثال په توګه، هغه اشخاص چې بهرني نومونه لري په بعضي حالاتو کې ښه چانسونه نلري چې د کار د غوښتنې یوې مرکې ته راوبلل شي.

## دا تبعیضي چلند دئ!

د نوموړي تبعیضي چلند په وړاندې تاسو کولای شی اقدام وکړی ځکه هیڅوک باید دهغه د نژادي منشا، جنس، مذهب یا عقیدې له امله، د معیوبتیا، عمر یا جنسي هویت له کبله زیان و نه مومي.

**مسلماني ښځې چې ټکرۍ په سر کوي**
مسلماني ښځې چې ټکرۍ په سر کوي هم د کار د لټلو په مهال د تبعیضي چلند سره مخامخ کیږي. اغلباً د هغوی د کارغوښتنه په دې دلیل ردیږي چې کیدای شی مشتریان یا د موسسې نور غړي د هغوی د ټکري د په سرکولو سره ستونځه ولري.

دا کار منع دی! هیڅوک باید د کار د لټونې په مهال د هغه د مذهب په دلیل ردنه شي.

دلته هغه کارورکوونکي چې په یوې مذهبي ټولنې پورې اړه ولري مستثنادي. هغه ښځې چې د کارلټونې په مهال د دغو کاروکوونکو سره مخامخ کیږي له دې امله سلا مشورې ته اړتیا نلري.

که چیرې د تاسو سره د کارغوښتنې د مرکې په مهال، د کارکولو په ترڅ کې یا د معاش د ورکړې په مهال تبعیضي چلند وشي، هرو مرو د سلامشورې یو ځای ته مراجعه وکړی. هلته تاسې کولای معلومات په لاس راوړی چې تاسې د دې زیان په وړاندې څه کولای شی او داچې آیا تاسو د تاوان یا خسارې د جبران حق لری که نه.

د تبعیض په وړاندې فدرالي اداره تاسو ته په وړیا او محرمه توګه سلا مشوره درکوي. هغوی کولای شي ستاسو سره همداراز مرسته وکړي چې تاسو په خپله نږدې سیمه کې د سلامشورې یو ځای پیداکړی.

+49 (0) 30 18555-1865
(د دوشنبې نه تر جمعې پورې د ۹–۱۲ بجو او ۱۳–۱۵ بجو پورې)
یا په انترنت کې د اړیکې د فورمې د ډکولو له لارې:
www.antidiskriminierungsstelle.de/beratung

تاسو ته نږدې د تبعیض پرضد د سلامشورې ځای کولای شی زمونږ د لاندې انترنتي اړیکې له لارې پیداکړی:
www.antidiskriminierungsstelle.de/beratungsstellensuche

## 2.1 جنسی اذیت د کار په ځای کې

**جنسی اذیت یعنی:** بیځایه لمس کول، په متجاوزه توګه په ځیر کتل، غیراخلاقی حرکتونه، جنسي تبصرې، شهوانی ټوکې یا د بربنډو انځورونو ځړول.

## د کار په ځای کې هر ډول جنسي اذیت په المان کې منع دی!

د کار په ځای کې د جنسي اذیت په اړه د اذیت کوونکي شخص موخه مهمه نده. مهمه داده چې جنسی رفتار په هیڅ ډول مطلوب ندی.

## له دې امله ټول کارکوونکي باید د جنسي اذیت په وړاندې د ځان څخه دفاع وکړي!

د کار په ځای کې د جنسي اذیت په وړاندې د ځان څخه د دفاع کولو دپاره راز راز امکانات شته:

- اذیت کوونکي شخص ته ووایئ چې دئ د اذیت کولو څخه لاس واخلي.
- د هغه یا خپل آمر ته شکایت وکړئ یا په نیغه کاروړکوونکي یا د شکایت مرجع ته ورشئ.
- د ادارې د ښځو یا جندر د استازي څخه د مرستې غوښتنه وکړئ.
- د ادارې د کارکوونکو شورا ته مراجعه وکړئ.
- د کاروړکوونکي په وړاندې د تاوان او خسارې د جبران د حقونو د لرلو د امکان په باب سلامشوره په لاس راوړئ.

پرته له دې چې تاسې په اداره کې د کارکوونکي یا زده کوونکي په توګه بوخت یاست، هر شخص حق لري چې د جنسي اذیت په وړاندې شکایت وکړي. هغه کارکوونکي چې شکایت کوي د کاروړکوونکي له خوا باید سزا ونه ویني یا لاس یې د کار نه وانه خیستل شي.
**کاروړکوونکي باید د جنسي اذیت په وړاندې لازم اقدام وکړي.**

**په ورځني ژوند کې** د جنسي اذیت یا جنسي تاوتریخوالي تولې بڼې د قانون له خوا منع شوې ندي. **په داسې مواردو کې** باید تاسې په نیغه پولیسو ته ورشئ یا د زیان رسیدونکو یوه ځای ته مراجعه وکړئ پرته له دې چې په پام کې ونیول شي چې دغه تاوتریخوالی په کوڅه کې یا په کورنۍ کې پیښ شویدی.

## زیان رسیدونکي کولای شي په لاندې پتې سلامشورې په لاس راوړي:

د تبعیض پرضدد اداري د سلامشورې د اړیکې شمیره

*Beratungstelefon der Antidiskriminierungsstelle*

+49 (0) 30 18555-1865
(د دوشنبې نه تر جمعې پورې د ۹–۲۱ بجو او ۳۱–۵۱ بجو پورې)

یا په انترنت کې د اړیکې د فورمې له لارې:
www.antidiskriminierungsstelle.de/beratung

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي دمرستې د اړیکې شمیره

*Hilfetelefon Gewalt gegen Frauen*

شپه او ورځ، د ضرورت په مهال د ژباړونکي سره

HILFE TELEFON
GEWALT GEGEN FRAUEN
08000 116 016

## 2. دفترونه او اداري

دفترونه او اداري دولتي ځایونه دي لکه سوسیال امت (ټولنیزه اداره)، جاب سنټر (د کار مرکز)، د بهرنیانو اداره یا یوګند امت (دځوانانو اداره). د پولیسو اداره هم یوه دولتي اداره ده. د دولتي ادارو د کار دپاره د تبعیض په وړاندې د ساتنې په موخه ځانګړي قواعد او قوانین وضع شویدي.

## د تبعیض ډوله سپکاویو یا چلندونو دپاره په ادارو کې هم اجازه نشته!

که چیرې له تاسو سره په یوه اداره کې تبعیضي چلند وشي، تاسې کولای شی لاندې اقدامونه وکړي:

- د خبرو په لړ کې د مخاطب پام د تبعیض منعې ته راواړوئ.
- د سلا مشورې د یوې ادارې څخه د مرستې غوښتنه وکړئ.
- د ادارې د مشرتابه څخه غوښتنه وکړئ چې یو بل شخص ستاسو دپاره ستاسو د کار په اړه وټاکي.
- د کار رسمي آمر ته یو انضباطي شکایت وړاندې کړئ.
- په یو شمیر ادارو کې د شکایت مرجع شته چې تاسې کولای شئ په نیغه توګه هلته مراجعه وکړئ.

## قاعده: ادارو ته د تګ په مهال تل یو ملګرې له ځانه سره ولرئ.

**د تبعیض پرضد په اداره کې د کار یوه بیلګه**
یوه مسلمانه ښځه د تبعیض پر ضد ادارې ته مراجعه کوي ځکه احساس کوي چې ورسره د کار په مرکز کې د یوې کارکوونکې له خوا تبعیضي چلند شویدی. هغې دې ته ویلي وو چې خپل تکرئ د سر څخه لیرې کړي ترڅو د کار په بازار کې د کارموندنې ښه شانس ورته پیدا شي.

د تبعیض پرضد د ادارې یوه سلاکاره د کار مرکز ته یو لیک استوي او هغوی ته لاربسوونه کوي چې دغه غوښتنه یو تبعیضي چلند دی. ددې ترڅنګ، د کار د مرکز څخه غوښتنه کوي چې دغه مورد وڅیړي.

د کار مرکز دغه موضوع څیړي. په آخر کې که څه هم کوم ثبوت نه پیداکیږي چې آیا نوموړې کارکوونکې د هغې ښځې سره تبعیضي چلند کړیدی او که نه، خو ددې دپاره چې د راتلونکې شخړې څخه مخنیوی وشي، نوموړې ښځه یوې بلې کارکوونکې ته معرفي کیږي.

د ادارو او دفترو نو سره د چلند په باب نور معلومات کولای شی د مثال په توګه په لاندې ځایونو کې په لاس راوړی:

PRO ASYL
www.proasyl.de
د سلامشورې د اړیکې شمیره
(د دوشنبې – جمعې پورې د ۱۰–۱۲ بجو او ۱۴–۱۶ بجو پورې)
+49 (0) 69 24231420

## په ادارو کې ژبه او افهام او تفهیم

د ډیرو قواعدو او فورمو پوهیدل آسانه کار ندی. **په آلمان کې آلماني ژبه رسمي ژبه ده.** له دې امله سوابق او اسناد په بله ژبه نه ژباړل کیږي. سربیره پردې، دا د رسمي ادارو دنده نده چې د مراجعینو دپاره ژباړونکي برابر کړي.

خو د رسمي ادارو کارکوونکي لږترلږه باید هڅه وکړي چې د غوښتنلیکونو محتویات مراجیعنو ته بیان کړي. ټول مراجعین د ژبې سره د لږې آشنایي له امله باید رد نشي.

## دغه تبعیضي چلند دی!



دا ټکی مهم دی: **تاسې هیڅ هغه پاڼه مه لاسلیک کوی چې وربانديِ نه پوهیږئ!**

او: **هر انسان ددې حق لري چې د کتنې په مهال یو ژباړونکی له ځانه سره راولي.**

تاسې کولای شی خپل خپلوان، دوستان، یا ټولنیز کارکوونکي د ژباړونکي په توګه د یوې لیدنې دپاره د ځانه سره راولئ.

خو اداري باید ددې هیله ونلري چې تاسې پخپله د ژباړونکي غمه خورئ. که بیا هم له تاسو څخه دغه غوښتنه وشوه، تاسې باید د مثال په توګه د مهاجرت د سلامشورې ځای ته مراجعه وکړئ. تاسو ته نږدې د مهاجرت د سلا مشورې ځای کولای شئ د مهاجرت او پناه غوښتونکو د فدرالي ادارې د سلامشورې د ځایونو د لټنې د انټرنټي مخ څخه پیداکړئ:

د مهاجرت او پناه غوښتونکو فدرالي اداره
*Bundesamt für Migration und Flüchtlinge*
انټرنټ: www.bamf.de
د سلامشورې د ځای د لټنې اړیکه:
http://webgis.bamf.de/BAMF/control

# 3. ډاکټران او روغتونونه

هر انسان په المان کې د طبي پاملرنې حق لري. ډاکټران باید ټول خلک تداوي کړي کوم چې:

- په اضطراری حالتونو کې وی
- روغتیایي بیمه یا صحي کارت ولري او یا
- د تداوی یوه پاڼه ولري.

**مهم ټکی: ستاسو د استوګنې وضعیت د تاسو په روغتیایي حالت پورې اړه نلري!**
**پرته له دې چې په پام کې ونیول شي چې تاسې د غاښونو ډاکټر ته مراجعه کوئ، امیندواره یاست یا د واکسین دپاره ځی.**

**خو:** د مهاجرینو په نزد ترټولولویه ستونځه داده چې دوی د روغتیایي بیمې کارت نلري مګر داچې له پخوا نه د پناه غوښتنې یا د پناه پیژندنې سند یې ترلاسه کړی وي. د المان په اکثرو ایالتونو کې پناه غوښتونکو او نویو کډوالو ته د ۱۵ میاشتو نه وروسته دا ډول کارت ورکول کیږي.

که چیرې تاسې تراوسه داسې کارت نلرئ، تاسو د معالجې یوې پاڼې ته اړتیا لرئ. د هرې معالجې دمخه دغه پاڼه د روغتیایي اداري یا د ټولنیزې اداري له خوا باید صادره شي.

**د معالجې پاڼې**
**د معالجې د پاڼو د صدور د پاره باید لاندې اقدامونه منظور شي:**

- هغه رنځونه چې باید په عاجله توګه معالجه شي
- هغه رنځونه چې درد ولري
- د امیند و ارۍ په اړه روغتیایي اقدامونه
- د ماشومانو د معالجې په هکله ټول اقدامونه
- د غاښو بدولول: یوازې په هغه صورت کې چې په نیغه ضروري وي
- واکسینونه او وقایوي معاینې

**پاملرنه:** کله چې تاسو ته کوم دارو درمل په نسخه کې ولیکل شي، د معالجې د پاڼې په لرلو سره تاسو ته دغه دارو درمل وړیا دي. پاملرنه وکړئ چې دغه خبره په نسخې باندې هم لیکل شوې وي.

داسې پیښیدای شي چې د ټولنیزې یا روغتیایي ادارې کارکوونکي بې له اجازې یو له پورتنیو اقدامونو څخه ردکړي. که چیرې دغه کار صورت ومومي، تاسې کولای شئ په دې باب په ټولنیزه اداره کې خپل **اعتراض** وړاندې کړئ.

## د کتنې د مهال ټاکل

هر انسان حق لري چې د ډاکټر دپاره د کتنې یو مهال ترلاسه کړي. کیدای شي چې په یو شمیر حالاتو کې ځو اونۍ په بر کې ونیسي تر څو د ډاکټر د کتنې یو ټاکلی مهال په لاس را شي. خو په المان کې اجازه نشته چې یوازې د یوه شخص د استوګنې د حالت له امله یا د هغه د مذهبي تړاو له کبله د هغه معالجه رد شي.

## دا تبعیضي چلند دئ!

**استثنائات**
یوازې په ټاکلي حالاتو کې ددې اجازه شته چې یو شخص ته د کتنې مهال ورنکړل شي. د مثال په توګه، په هغو معاینه خانو کې چې یوازې هغه اشخاص معالجه کیږي چې شخصي روغتیایي بیمه ولري.
سربیره پردې باید د ډاکټرو معاینه خانې په هغه صورت کې چې ډیر زیات ناروغان ولري نورو اشخاصو ته د کتنې مهال ورنکړي.

**دا تبعیضي چلند ندئ!**

که چیرې تاسې د ډاکټر له خوا د معاینې په مهال یا د مهال د ورکړې په ترڅ د یوه تبعیضي چلند سره مخامخ شوئ، کولای شئ د روغتیا ځایي ادارې ته مراجعه وکړئ یا خپل شکایت د ایالت د ډاکټرانو خونې ته وړاندې کړئ. د بدیل په توګه کولای شئ لومړی د مهاجرت د سلامشورې د یوې ادارې سره اړیکه ونیسئ.

**د تبعیض پرضد د ادارې ځځه یو بیلګه**
یوه امیندواره پناه غوښتونکې چې د وینې لوړ فشار لري د یوې تولنیزې کارکوونکې سره یوځای روغتون ته مراجعه کوي. هلته په لومړي سر کې ددې درملنه رد کیږي. د اړونده ادارې د معالجې پانه نه منل کیږي.

خو وروسته له دې چې تولنیزې کارکوونکې په وار وار شکایت وکړ او په نیغه د یوه ډاکټر سره خبرې وکړې، د امیندوارې ښځې معالجه پیل شوه او هغې ته په روغتون کې یو بستر هم ورکړل شو.

**معیوبتیا**
معیوب کسان باید په لومړي سر کې سلامشوره تر لاسه کړي. دغه سلا مشوره کولای شئ د لاندې ځایونو ځخه په لاس راوړي: د خپل کور ډاکټر، د روغتیا یا تولنیزه اداره، د مهاجرت د سلامشورې اداره ، په ځینو مواردو کې د لومړی استوګنې اداره یا

Bundesvereinigung Lebenshilfe e.V.
**www.lebenshilfe.de**

**نربښځي توب**
د نربښځو اشخاصو روغتیاي خارنه په المان کې په واحده توګه نده تنظیم شوې. د مشورې او نورو معلوماتو دپاره لاندې ادارې ته مراجعه وکړئ:

*Inter*- und Trans*-Beratung von Queer Leben*

**www.queer-leben.de**

## 4. د بانکي حساب پرانیستل

د ډیرو مالي چارو دپاره ضروري ده چې شخص یو بانکي حساب ولري. د مثال په توګه د معاش لیږد، د فیټنیس په یوه ستوډیو کې غړیتوب یا د کور کرایه کول اغلباً یوازې د بانکي حساب له لارې ترسره کیږي.

که څوک غواړي یو بانکي حساب پرانیزي، هغه یو داسې سند ته اړتیا لري چې د هغه شخصي هویت ثابت کړي. د پیژندنې د کارټ او پاسپورټ تر څنګ کیدای شي دا سند د استوګنې کاغذونه لکه دولدونګ، د استوګنې د اجازې سند او داسې نور وي.

د بانکي حساب د پرانیستلو دپاره باید ستاستو د پیژندنې سند لاندې معلومات ولري:

- د المان د یوې رسمي اداري سرلیک او مهر لکه د بهرنیانو اداره
- د شهرت جزئیات لکه نوم، د زیږیدو نیټه، او داسې نور
- پته
- انځور
- د غوښتونکي لاسلیک

# په المان کې هر سړی ددې حق لري چې يو بانکي حساب پرانيزي پرته له دې چې د هغه اصلي منشا يا د استوګنې حالت په پام کې ونيول شي.

سره له دې کيدای شي چې د يوه بانکي حساب د پرانيستلو په مهال يو تبعيضي چلند پيښ شي. بانکونه ددې اجازه نلري چې بې له کوم دليل څخه د يو شخص د بانکي حساب د پرانيستلو غوښتنه رد کړي يا هغه ته د بانک د ننوتلو اجازه ورنکړي.

## دا تبعيضي چلند دئ!

يوازې **په استثنايي حالاتو** کې بانکونه کولای شي ديوه مشتري د غړيتوب غوښتنه رد کړې.

د مثال په توګه:

- که چيری يو شخص په آلمان کې يو بانکي حساب ولري.
- که چيرې يو شخص په يوه څانګه کې جرمي فقره ولري چې په بانک يا نورو مالي چارو پورې اړه ولري.
- که چيرې بانک تير مهال يو وار د شخص يو بانکې حساب منحل کړی وي.

## دا تبعيضي چلند ندئ!



## 5. تفریحی مهال او ورځنۍ ژوند

په خدمتونو کې هم د نژادي سببونو یا د اصلي استوګنې یا نژادي منشا، جنس، مذهب، عمر، معیوبیت یا جنسي هویت له کبله تبعیضي چلند منع دئ.

کله کله پیښیږي چې اشخاسو ته د مثال په توګه د نژادي سببونو یا د هغو د مذهب له کبله یوې دیسکوتیک، یوې فیتنیس ستوډیو یا د لامبو یو حوض ته د ننوتلو اجازه ورنکړل شي.

**دا تبعیضي چلند دئ!**

**استثنائات**

د ردولو هر عمل تبعيضي چلند نه ګڼل کيږي :
د مثال په توګه ديسکوتيکونه غواړي يوه تاکلې فضا منځته راوړي او له دې امله هغه کسان ردوي چې ډير نشه وي، تهاجمي حالت ولري يا تاکلی لباس يې نه وي اغوستي.

سربيره پردې شخص کيدای شي د مثال په توګه د لامبو حوض يا د فيتنيس يوې ستوديو ته د ننوتلو اجازه ترلاسه نکړي که چيرې تر حده زيات شمير خلک هلته موجود وي.

## دا تبعيضي چلند ندئ!

که چيرې يو شخص د ژبې د ناپوهۍ يا د استوګنې د حالت يا مليت له کبله د يوه خدمت څخه محروم شي، دا يو نژادي تبعيض ګڼل کيږي. تاسې کولای شئ ددې پرضد له ځانه دفاع وکړئ. په دغه صورت کې د سلامشورې يوې ادارې ته مراجعه وکړئ.

تل آسانه نه ده چې د ردولو سببونه پيداکړئ. له دې امله کولای شئ لاندې ټکي په پام کې ونيسئ:

- د ردولو د سيبب په باب پوښتنه وکړئ.
- آيا دغه سبب مفهوم لري؟ آيا د مثال په توګه وروسته له دې چې تاس ته وويل شول چې ديسکوتيک د خلکو نه ډکه ده، بياهم نورو ته د ننوتلو اجازه ورکړل شوه؟
- که چيرې د تاسو نه غوښتنه وشوه چې د پيژندې سند، يو بلنليک يا د کلپ يو کارت ښکاره کړئ، آيا د نوور ميلمنو څخه هم همدا پوښتنه وشوه؟

که چيرې تاسې احساس کوئ چې ستاسو سره تبعيضي چلند شويدئ:

- په خپله نږدې سيمه کې مرسته ولټوئ.
- له ځانه سره هغه څه چې پيښ شويدي وليکئ. آيا کوم عيني شاهد شته چې د نوموړی تبعيضي چلند په باب شهادت ورکړي؟

- خپله آرامتیا وساتئ که څه هم چې په قهر یاست.
- د سلامشورې یوې اداري ته مراجعه وکړئ، د مثال په توګه

د تبعیض په وړاندې فدرالي اداري د سلامشورې د اړیکې شمیره:
*Beratungstelefon der Antidiskriminierungsstelle des Bundes*
+49 (0) 30 18555-1865
(د دوشنبې نه تر جمعې پورې د ۹ــ۲۱ بجو او ۳۱ــ۵۱ بجو پورې)

یا په انترنت کې د اړیکې د فورمې له لارې:
www.antidiskriminierungsstelle.de/beratung

تاسو ته نږدې د تبعیض پرضد د سلامشورې ځای کولای شی زمونږ
د لاندې انټرنتي اړیکې له لارې پیداکړی:
www.antidiskriminierungsstelle.de/beratungsstellen

**د قضایي پریکړې یوه بیلګه**
یو سوریایي زده کوونکي ته دیسکوتیک ته د ننوتلو اجازه ورنکړل شوه. دغه سړی نشه نه ؤ او مناسبه جامه یې هم اغوستې ده. د هغه سپین پوسته ملګري بې له کومې ستونزې کلوپ ته ننوزي.

نوموړی زده کوونکی له ځانه سره پریکړه کوي چې د دیسکوتیک په وړاندې شکایت وکړي. د هغه ملګري په دغه پیښه کې شاهدان دي. محکمه پریکړه وکړه: نوموړي سړي ته د نژادي سببونو له امله د ننوتلو اجازه ورکړل شوې نه وه. دیسکوتیک باید ۱۰۰۰ یورو نوموړي زده کوونکي ته د تاوان په توګه ورکړي.

**تولنې**
د سپورټ يا موسيقۍ زيات شمير کلوپونه د ټولنو په توګه فعاليت کوي. د تبعيض په وړاندې ساتنه په نومړو ټولنو کې يوازې په ځانګړيو مهمو سازمانونو او د کار په ډګر کې صدق کوي.

دا پدې معنا ده چې: په کوچنيو او ځايي ټولنو لکه د فوټبال په يوه ځايي کلوپ کې د غړيتوب قانوني حق نشته. خو اغلباً نور امکانات شته چې د تبعيضي چلند په وړاندې د ځان نه دفاع وکړئ. که چيرې يوه ټولنه ستاسې د غړيتوب غوښتنه ردکړي، تاسو سره له دې هم کولای شئ د سلامشورې يوې ادارې د مثال په توګه د مهاجرت د سلامشورې ادارې ته مراجعه وکړئ.

هغه کسان چې د يوې ټولنې غړي دي او هلته د هغوی سره تبعيضي چلند وشي، کولای شي د ټولنې مشرتابه ته مراجعه وکړي.

# 6. د استوګنځي لټول

په المان کې د استوګنځي د لټولو په مهال تبعيضي چلند منع دئ:

- د کرايه ورکولو په مهال
- د کرايې په بهير کې
- د کرايې د پايته رسيدو په مهال

خو د بيلابيلو حقوقي ځانګړتياوو ترمنځ توپيرونه ليدل کيږي:

**د نژادي منشا له امله تبعيضي چلنداونژادي تبعيض** منع دی. د استوګنې د حالت يا په ژبه د نه پوهيدلو له کبله د غوښتنې ردول هم په نومړي چلند پورې اړه لري.

**استثنا**
د تبعیضي چلند منع په هغه صورت کې د تطبیق وړ نده چې کرایه ورکوونکی پخپله په کور یا پر مځکه باندې اوسیږي.

**د مساوي چلند د عمومي قانون د نورو ځانګړتیاوو په هکله د نژادي منشا نه پرته** د تبعیضي چلند منع هغه وخت د تطبیق وړ ده چې کرایه ورکوونکۍ د ۵۰ نه زیات کورونه په کرایه ورکړې. دلته بیا د دله ایزې سوداګرۍ خبره منځته راځي.

که چیرې د مثال په توګه یوه همجنس بازه جوړه یو کور لټوي خو د هغوي غوښتنه د همجنسه ملګرتیا له کبله ردیږي، یوازې د کورونو د لویو شرکتونو په وړاندې کیدای شي شکایت وشي.

## د تبعیضي چلند په حالت کې

که چیرې د مثال په توګه د یوه کور په لیدنه کې داسې وویل شي: "هیڅ بهرنی" یا "هیڅ مهاجر"، دلته په څرګنده توګه خبره د منع شوي تبعیضي چلند په سربانډې ده. ددې په وړاندې تاسو کولای شئ له ځان نه دفاع وکړئ.

سربیره پردې کیدای شي د کرایې په بهیر کې زیانونه پیښ شي. د مثال په توګه د کرایې د کچې لوړول، ګواښونه یا د کرایې د تړون پایته رسول.

## دا تبعیضي چلند دئ!

په داسې حالت کې تاسې باید په نیغه مرسته ولټوئ. تاسو کولای شئ د مثال په توګه دلاندې مرجع څخه مرسته په لاس راوړئ:

د تبعیض په وړاندې فدرالي اداري د سلامشورې د اړیکي شمیره:
*Beratungstelefon der Antidiskriminierungsstelle des Bundes*
+49 (0) 30 18555-1865
(د دوشنبې نه تر جمعې پورې د ۹–۱۲ بجو او ۱۳–۱۵ بجو پورې)

یا په انترنت کې د اړیکې د فورمې له لارې:
www.antidiskriminierungsstelle.de/beratung

تاسو ته نږدې د تبعیض پرضد د سلامشورې ځای کولای شی زمونږ
د لاندې انترنتي اړیکې له لارې پیداکړی:
www.antidiskriminierungsstelle.de/beratungsstellen

که چیرې ستاسو ګاونډئ د تاسو سره تبعیضي چلند یا دښمني
کوي باید په بیړه د کور خاوند یا د کورونو د مدیریت اداری
(Hausverwaltung) ته مراجعه وکړئ ترڅو د راتلونکو شخړو
څخه مخنیوئ وشي.

د کورنو په بازار کې هم تبعیضي چلند شته خو ډیر څرګند ندئ.
د مثال په توګه کله چې د کور کرایه ورکوونکئ داسې ښیي چې
ګواکې کور په کرایه ورکړل شویدی.په دې حالت کې هم ښه به
وي چې د سلامشورې یوې اداري ته مراجعه وکړئ. دسلامشورې
اداري کولای شي دغه موارد مستند کړي او ثبوتونه راټول کړي.

**د تبعیض پرضد د اداري د کار یوه بیلګه**
د کورونو یو سیمه ایز شرکت د دووسوریایي ځوانانو سره د
یوه کور د کرایې ترون لاسلیکول ردوي. د دوی د ځای لیږد
د اړونده رسمي اداري له خوا هم منظور شویدی. خو هغه
شرکت پلمې وړاندې کوي او هغوی ته د ترون د لاسلیک
فرصت نه ورکوي. نوموړې پلمې د باور وړندي او د تبعیضي
چلند بڼه لري.

له دې امله دواړه سوریایي ځوانان د مهاجرت یوې اداري ته
مراجعه کوي. د دې اداري د یوه تن کارکوونکي په مرسته او د
یوه حقوق پوه په ملاتړ دغو ځوانانو وکولای شول شیږ میاشتې
وروسته د کرایې ترون لاسلیک کړي.



## 7. زده کړه او ښوونځی

په المان کې فدرالي ایالتونه د ښووني او روزنې دنده په غاړه لري. له همدې امله راز راز قواعداو د ښوونځی بڼې شته. په المان کې د ښووني او روزنې په باب عمومي معلومات په لاندې ځای کې د مثال په توګه په لاس راوړلای شئ:

د مهاجرت او کډوالو فدرالي اداره
*Bundesamt für Migration und Flüchtlinge*
www.bamf.de/DE/Willkommen/Bildung/bildung-node.html

**نوي ځوانان او لویان چې په خپل هیواد کې یې تحصیل کړی وي، کولای شي خپلې تحصیلي اسناد په المان کې د ټاکلو شرایطو په پام کې نیولو سره د رسمیت پیژندلو دپاره وړاندې کړي. په دې باب نور معلومات او تاسو ته نږدې د سلامشورې اداري په لاندې ځای کې موندلای شئ:**

**www.anerkennung-in-deutschland.de**
**+49 (0) 30 1815 1111**

قاعده: ټول کوچنیان او نوي ځوانان په المان کې باید ښوونځي ته ولاړشي. دغه د **ښونځي دنده**

- د کوچنیانو دپاره چې عمر یې د پنځو او اوو کلونو ترمنځ وي پیل کیږي او د فدرالي ایالت پر بنا د نهو نه تر دوولسو کلونو وروسته پایته رسیږي.
- دغه دنده د استوګنې په حالت پورې اړه نه نیسي.

## په دې معنا چې ټول کوچنیان او تنکي ځوانان حق لري چې ښوونځی ته ولاړشي!

په استثنايي مواردو کې ښوونځی ددې حق لري چې که چیرې له حد نه زیات شمیر کوچنیان او تنکي ځوانان په ښونځی کې شامل وي د نورو غوښتنه رد کړي.

## دا تبعیضي چلند ندی!

په دې حالت کې بیاهم د کوچنیانو مور او پلار هرومرو باید د مهاجرت د سلامشورې یوې اداري یا د ښوونځیو اړونده اداري ته مراجعه وکړي. اساساً تل لږترلږه یوه ښوونځی په بله نږدې سیمه کې شته چې باید کوچنیان او تنکي ځوانان د زده کړې دپاره ومني.

**پاملرنه!**
کله کله هم ویل کیږي چې مهاجر کوچنیان د ژبې د نه پوهیدلو له امله باید حمایوي ښوونځیو ته واستول شي. دغه کار د اوږدمهاله ادغام په موخه کیدای شي د کوچنیانو او نوي ځوانانو دپاره زیانمن وي. له دې کبله هم پلار او مور باید په داسې حالت کې د مهاجرت د سلامشورې یوې ادارې ته د مرستې لپاره مراجعه وکړي.

خو **تبعیضي چلند** کیدای شي **د ښونځي په ورځني ژوند کې** هم پیښ شي. د مثال په توګه داسې هم پیښیږي چې کوچنیان د خپلو هم ټولګیو څخه جلاکړل شي. د ښوونکو خبرې یا رفتار هم کولای شي انفرادي زده کوونکو ته زیان ورسي.

## دا تبعیضي چلند دئ!

که څه هم د ښونځیو په برخه کې د تبعیضي چلند په وړاندې کوم واحد قانوني ساتنه نه لیدل کیږي، خو بیاهم ډیر امکانات شته چې په ښونځي کې د تبعیضي چلند په وړاندې د ځان نه دفاع وکړئ.

د پیښې د څرګنګوالي په پام کې نیولو سره پلار او مور باید د ښوونکو یا د ښوونځي د ادارې سره په نیغه اړیکه ونیسي. په یو شمیر ایالتونو کې او په یوشمیر ښوونځیو کې مستقیمه مرجع یا اشخاص شته چې د یوه تبعیضي چلند په صورت کې هغوی ته مراجعه کیدای شي. په دې صورت کې لاندې ځایونو ته مراجعه وکړئ:

د تبعیض په وړاندې فدرالي اداري د سلامشورې د اړیکې شمیره:
*Beratungstelefon der Antidiskriminierungsstelle des Bundes*
+49 (0) 30 18555-1865
(د دوشنبې نه تر جمعې پورې د ۹–۲۱ بجو او ۳۱–۵۱ بجو پورې)

یا په انترنت کې د اړیکې د فورمې له لارې:
www.antidiskriminierungsstelle.de/beratung

تاسو ته نږدې د تبعیض پرضد د سلامشورې ځای کولای شی زمونږ د لاندې انترنتي اړیکې له لارې پیداکړی:
www.antidiskriminierungsstelle.de/beratungsstellen

# وړکتون او د ماشومانو د ساتنې ځای

کوچني ماشومان په يوه وړکتون يا د ماشومانو د ساتنې په يوځای کې د شامليدلو حق لري. که چيرې ددې احساس وکړئ چې ستاسو سره د نومورو ځايونو د لېږولو په ترڅ کې تبعيضي چلند شويدئ، د لاندې مرجع څخه سلامشوره په لاس راوړئ:

*KiDs – Kinder vor Diskriminierung schützen!*

www.situationsansatz.de/kids.html

# .IV مرسته او سلا مشوره

| سازمان | انترنت | تيلفون |
|---|---|---|
| د تبعیض په وړاندي فدرالي اداره<br><br>**Antidiskriminierungsstelle des Bundes**<br><br>(دلته تاسو کولای شئ په تیره بیا د هغو مواردو په اړه چي د کار، استوګني او ورځني کار او بار په ډګرونو کي پیښیږي، مرسته ترلاسه کړئ) | www.antidiskriminierungsstelle.de | +49 (0) 30 18555-1865 |
| **Antidiskriminierungs-verband Deutschland (advd)**<br><br>(دلته تاسو کولای شئ په تیره بیا د هغو مواردو په اړه چي د کار، استوګني او ورځني کار او بار په ډګرونو کي پیښیږي، مرسته ترلاسه کړئ) | www.antidiskriminierung.org | +49 (0) 341 30690787 |

| | | |
|---|---|---|
| د مهاجرت او کډوالو فدرالي اداره | Allgemein:<br>www.bamf.de | |
| **BAMF – Bundesamt für Migration und Flüchtlinge**<br><br>(دلته تاسو کولای شئ د کډوالو دپاره د ژوند د ټولو ډګرونو په اړه معلومات، او د مهاجرت او د ځوانانو دپاره د مهاجرت د خدماتو په باب ستاسو سیمي ته نږدې د سلامشورې د ادارو لټونه په الماني، انګریزي، ترکي او روسي ژبو په لاس راوړئ) | Beratungsstellen:<br>http://webgis.bamf.de/BAMF/control<br><br>Bildung:<br>www.bamf.de/DE/Willkommen/Bildung/bildung-node.html | |
| **Beratungsstellensuche der Antidiskriminierungsstelle des Bundes**<br><br>د تبعیض په وړاندې د فدرالي ادارې د سلامشورې د ادارو لټونه (دلته تاسو د تاسو سیمي ته نږدې د سلامشورې اداره پیداکولای شئ) | www.antidiskriminierungsstelle.de/beratungsstellen | |
| **Hilfetelefon Gewalt gegen Frauen**<br><br>د ښځو پرضد د تاوتریخوالي د مرستي تیلفون (دلته په تیره بیا ښځي، چي تاوتریخوالی یي تجربه کړی وي یا د تاوتریخوالي د ګواښ سره مخامخ دي، کولای شي په ۵۱ ژبو، ۴۲ ساعته مرسته په لاس راوړي) | www.hilfetelefon.de | 08000 116016 |

| | | |
|---|---|---|
| +49 (0) 30 695399904 | www.situationsansatz.de/kids.html | **KiDs – Kinder vor Diskriminierung schützen**<br><br>(دلته تاسي کولای شئ په وړکتونونو او د ماشومانو د ساتنې په ځایونو کې د تبعیضي چلند په مواردو کې مرسته ترلاسه کړئ) |
| +49 (0) 69 24231420 | www.proasyl.de | **PRO ASYL**<br><br>(دلته تاسي کولای شئ د مهاجرت او پناه غوښتنې او د ادارو او دفترونو سره د چلند په باب عمومي معلومات په لاس راوړئ) |
| | www.rainbow-refugees.de | **Rainbow Refugees**<br><br>(دلته همجنس بازه، ګډ جنسه، نربښځي او نور مرسته ترلاسه کولای شي) |

**تبعیضي چلند، تاوتریخوالی او د تنفر جرمونه**
که چیرې د تاسو سره د نژاد یا همجنس بازی سره د دښمنی په علت یا نورو سببونو له کبله په تاوتریخوالي برید وشي، باید پولیسو ته مراجعه وکړئ. د تاوتریخوالي ټول اعمال جرمي اعمال دي. په یوه جرم باندې د شک په صورت کې ټول خلک ددې حق لري چې پولیسو، څارنوالی یا محکمې ته ریپوټ ورکړي.

سربیره پردې، په بیلابیلو ایالتونو کې د تاوتریخوالي او تنفر د جرمونو سره د مخامخ شوي کسانو دپاره د سلامشورې اداري شته. د مثال په توګه د سلامشورې ځایونه په لاندې جدول کې وګورئ:

| | |
|---|---|
| د سیارې سلامشورې فدرالي ټولنه<br>*Bundesverband Mobile Beratung*<br><br>**http://www.bundesverband-mobile-beratung.de/kontakt/** | د ښي لاس پلویانو، نژادپالونکو او د یهودیانو پرضد تنفرکوونکو له خوا د تاوتریخوالي څخه متاثره شوي خلکو دپاره د سلامشورې د ادارو ټولنه<br>*Verband der Beratungsstellen für Betroffene rechter, rassistischer und antisemitischer Gewalt*<br><br>**www.verband-brg.de/index.php/beratung-und-unterstuetzung**<br><br>+49 (0) 30 55574371 |

دغه خپرونه د تبعیض په وړاندې د فدرالي اداري د عامه کارونو یوه برخه ده چې په وړیا توګه خلکو ته ورکول کیږي او د پلورلو دپاره نده.

**خپروونکې اداره:**
Antidiskriminierungsstelle des Bundes
11018 Berlin
**www.antidiskriminierungsstelle.de**

**د سلامشورې اړیکې:**
تیلفون: +49 (0) 30 18555-1865
(د دوشنبې نه تر جمعې پورې د ۹ــ۲۱ بجو او ۳۱ــ۵۱ بجو پورې)

فاکس: +49 (0) 30 18555-41865
ایمیل: **beratung@ads.bund.de**

لیدنه د اړیکې نه وروسته

**د مرکز د اړیکې شمیره:**
تیلفون: +49 (0) 30 18555-1855
ایمیل: **poststelle@ads.bund.de**

**بڼه (لی اوټ):** www.avitamin.de

**غرفه:** د نومبر په 2016

**د انځور پته:**
;©istockphoto.com / Geber86 ;©istockphoto.com / Rawpixel Ltd.
©istockphoto.com / ;©istockphoto.com / Drazen Lovric
©fotolia.com / kagemusha ;monkeybusinessimages